**د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت**
**د پکتیکا در مسیر تاریخ سیمینار**

# پکتیکا او پکتیکا وال
## ـ نالوستې حقایق اوهیرې کارنامې یې

**داکتر امیرمحمد منصوري**، ۱۵جوزا، ۱۳۹۶ هش، کابل

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## د موضوعاتو فهرست

**خلاصه** ........ 2
پکتیکا او پکیتکا وال ـ نالوستی حقایق او هیری کارنامی یې ........ 3
**مقدمه** ........ 3
**د پکتیکا او پکتیکا والو په اړه** ........ 3
**سیمې ولسونه او تاریخ یې** ........ 4
**د پکتیکا مشاهیر، مفاخر او تاریخی اماکن** ........ 6
**د پکتیکا والو نالوستي خو په یادونو کې زوندۍ کارنامې او قربانۍ** ........ 7
**د آزادي په جګړه کې** ........ 7
**پکتیکا وال او د سرحد ساتنه: د دولت په ځای د ولس ذمه واري!** ........ 7
**د شورویانو د تهاجم په دوره کې** ........ 8
**د کشمیر په آزادي کې د پکتیکا والو قرباني** ........ 9
**مشرقي پاکستان (بنګله دیش) کې د پکتیکاوالوځوانانو قتل عام** ........ 9
**له پکتیکا میشتو ولسونو څخه د وخت د حاکمانو ځینی خاطری** ........ 10
**نتیجه او سپارښتنې** ........ 10

ketabton.com - The Digital Library

# پکتیکا او پکیتکا وال- نالوستي حقایق اوهیرې کارنامې يې

**داکتر امیرمحمد منصوري،** ۱۵جوزا، ۱۳۹۶ هش، کابل

## خلاصه

دغه لیکنه د اوسنۍ پکتیکا په جغرافیې کې د میشتو ولسونو د یو شمیر داسې تاریخي کارنامو یادونه ده چې ډیری یې د تاریخ په پاڼو کې ثبت شوی نه خو په یادونو کې لا ژوندۍ دي. لیکنه تر ډیره حده د یوشمیر محدودو پیښو او حقایقو بیان دی چې په اوله ، دوهمه او یا دریمه خوله له هغه چا څخه چې د پیښو شاهد وو اوریدل شوی او را نقل شویدی. یو شمیر نور یې بیا د معتبرو اسنادو او ځانی مشاهدی له مخی لیکل شویدی. دا چې دغه ټولګه یوازی د لیکونکی تر ځاني تجربي او حلقو پورې محدوده ده، نو د ولس او مربوطه جغرافیې د ټولو نا لیکل شویو کارنامو او پیښو یوازی یوه نمونه بلل کیدای شي. له دغو ټولو سره بیا هم هیله کیږی چې دغه لیکنه به نورو څیړنو او زورو لیدنو ته لار هواره او ځوان لیکونکی او څیړونکی به دغه کار ته وهڅوی.
لکه چې ښکاری د پکتیکا میشتو ولسونو د جغرافیوی موقیعیت، تاریخ، او یا هم دواړو له مقتضیاتو سره سم په ډیرو ناغوښتل شویو معضلو کې په ارادي یا هم غیر ارادی توګه برخه لرلی وه او تر ډیره حده یې لویې کارنامی کړی. ډیری له دغو سر ښندنو څخه کیدای شی د هیواد د بین الدولی معاملو لپاره، په خاصه د ګاونډیو هیوادونو سره، د معتبرو تاریخی پیښو په توګه ثبت شی او د هیواد د منافعو لپاره د شواهدو په توګه ګټه ځینی واخستل شی او یا لږ تر تره له نورو (همسایه ګانو) سره د معاملی لپاره د هیواد او پکتیکا والو په ګټه وکارولی شی.
دلیکنی مهمه نتیجه له ماضی څخه د عبرت اخیستنه ده چې باید د سبا لپاره په یاد وی. بله دا چې د پکتیکا والو د قربانیو حق پر ځای شی. دا هم مهمه ده چې دغه حقایق د تاریخ په پاڼو کې د ثبتیدلو له لاری په بین الدولی معاملاتو کې د معتبروشواهدو په توګه د هیواد او هیوادوالو په ګټه و کارول شی. د ستونځو د حل لپاره د هغوی واقعی او علمی تحلیل هم یوه لزومه ده چی د پکتیکا والو د ستونځو په حل کې مرسته کولای شی.

ketabton.com - The Digital Library

# پکتیکا او پکیتکا وال - نالوستی حقایق اوهیری کارنامی یې

**مقدمه**

د هیواد ولسونو او مختلفو اقشارو په محلی او ملی سطحه د هیواد په ډیرو تاریخی پیښو او کارنامو کې یو ځایی او یا هم انفرادی توګه خپل مسؤلیت تر سره کړی او د قربانیو له لاری یې د دین، وطن او ولس حق ادا کړی وی. د پکتیکا په موجوده جغرافیه کې میشتو ولسونو هم دغه کار په پوره امانتداری سره تر سره کړی دی. استعماری قوتونو او له استعمار څخه د را پاته ناخوالو یوه ستونځه هم دا ده چې هغه ولسونه چې د استعمارچیانو له خوا د نقشی پر مخ د خط ایستلو په وسیله سره جدا کړي نو ستونځي يې اوږمهاله او کله ډیرې پیچلي هم وي. د پکتیکا سیمه او ولس له پاکستان سره د ډیورند د په لاس ایستل شوې کرښې په اوږدو کې تقریباً ۳۰۰ کیلو متره اوږ سرحد لري.دغه اوږد سرحد چې هیڅکله هم منل شوی نه او د عمل جامه يې نده لرلی، نو د ولسونو لپاره یې د ستونځو تر څنګ یو شمیر ګټور فرصتونه هم لرلی دی.

د اداري واحد په توګه د پکتیکا ولایت اوږده سابقه نلري اما د وخت حاکمانو ته یې تل اهمیت درلودلی وو. د ولایت په حیث تر تشکیل مخکې دورو کې د اداري واحدونو په حیث د دوو لویو ولسوالیو ( کټوازاو اورګون) او د یوې حاکی (ګومل) منظوري د دغي سیمي د ستراتیژیک اهمیت ښکارندویي کوي چې لږ تر لږه مرکزي حکومت یې اهمیت درک کړی وو. سره لدې چې د موجوده پکتیکا ولایت نیمه برخه د غزني د ولایت او بله برخه یې د پکتیا د ولایت مربوطی وی، اما پکی میشت ولسونه دومره سره ګډ او نژدی وو چې په اداری واحدونو کې ویښلو نشو سره جلا کولای- ګډې لارې، ګډ مهارجتونه، یو شان معشیت، ګډې ګټې، ګډی ستونځی، مختلط منطقوي جوړښت، نژدي روابط، تر یوه حده ګډه ګومل، اونور یې داسي طبعي ځانګړتیاوې دی چې تر اداري واحد یې د نزدیوالي اغیز او رول ډیر زیات دی.

دغه سیمه د تاریخ په اوږدو کې ، د دوښمن د تیریو، پر دوښمن د غلبو، د دوښمن د مکر او تیر ایستني پالیسیو شاهده ده. د دغي سیمي ولسونو د پخواني برم څخه را پا ته غرور په وجه کله کله د انګریزانو په لاس د لوی ایستل شوي خط وجود هیر کړی وي او د دین د دفاع او اسلامي خاورې د دفاع لپاره یې د دوښمن له دوښمن سره هم ډغرې وهلي دي.

په لاندې پاڼو کې د پکتیکا د سیمي او د پکتیکا والو په یو شمیر داسی کارنامو غبرګرو چې سره لدې چې د یوه قوم د قربانینو ښې نمونی دی او باید ور باندی وویاړل شی اما تر ډیره د تاریخ له پاڼو پاته، نالوستي حقایق او هیرې کارنامي بلل کیږي. له دغه ځایه څخه دا چې د سیمي او ولسونو دغه ډول کارنامي او قربانۍ په یادونو کې لا ژوندۍ دي نو لازمه ده د تاریخي حقایقو په حیث معرفي شي او د محلي او ملي امتیازاتو لپاره وکارول شي او لږ تر لږه د عبرت ، ویاړ او اهمیت له اړخه کار ځینی واخستل شي.

د دغې لیکنی اساسي هدف د پکتیکا او پکیتکا والو د ښې پیژندنی لپاره معلومات نشرول دي. هیله کیږی چې د سیمی او ولسونو د قربانیو مؤثق معلومات به په محلی او ملی سطحه د خیر او ګټی رسونی لپاره وکارول شی. هیله کیږی چې د دې لیکنی منځپانګه به نور محققین هم زورو ځیرنو ته و هڅوی او پدې هکله به نوری لیکنی هم وشی.

## د پکتیکا او پکتیکا والو په اړه[1]

د پکتیکا ولایت د هیواد په جنوب ختیځ کې پروت دی. د سیمي د لویي برخي ارضي میلان یې له شمال څخه د جنوب خواته دی. د ولایت ختیځه نیمه خوا په طبعي ځنګلونو پټو غرونو پوښلې، خو لویدیځه نیمه خوا یې (د کټواز سیمه) بیا د غرونو د سلسلو تر منځ یوه هواره سیمه ده چې په شمالي سرکي تنګ مرتفعات او جنوبي خوا یې پراخه هواره سیمه جوړوي. د غرونو دوه لوړې څوکي ، چې دواړه یې په یوه نوم "د غومبر خولی" په نوم یادیږي یو بل ته مخامخ، یوه د سروضي او بله د اومني په ولسوالیو کې واقع دي، چې جګوالی یې تر 3300 متره زیات دی. د پکتیکا، ګومل، اورګون او د کټواز د نومونو څرک د تاریخ په اوږدو کې حتی د ریګویدا تر سرودونو پورې رسیږي، چې دا څرګندوي چې دغه سیمي به د زړو اریایانو د موسمي اوسیدو مېلې، څړځایونه او د مهاجرتونو لارې وي.

[1]1 د دغی لیکنی لومړی برخه د «منصوری امیر محمد (۱۳۹۲ هش) کال د «پکتیکا – په کندوالو کی خزانی او که کندواله شوی خزانی» له مضمون څخه را اخیستل شوی ده.

ketabton.com - The Digital Library

**سیمي ولسونه او تاریخ یې**

د «برمل، زرمل ، فرمل او ګومل» د یوه ولسي کیسه ایز روایت له مخې، لومړي دری ورونه او یوه یې خور وه، چې هر یو یې د زرمل (اوسنی زرمت)، فرمل (اوسنی اورګون)، برمل او ګومل په سیمو کې میشت شوی وو او له دغه ځایه دغه سیمې په دغو نومونو شهرت لري. د پکتیکا په سیمه کې مختلف قومونه، لکه ګیانخیل، وزیر، ځدراڼ، سلیمانځي، سیدان، پیرکوتیی، دیګان، اندړ، فورمولي او نور میشت دی چې لویی قبیلی یې خروټي او سلیمانخیل دي. داسې ښکاري چې اکثریت دغه قبیلې چې کله له خپل اصلی ټاټوبي، یعنې د غور له سیمې، څخه را کوچیدلي وو نو کوچیانی ژوند یې درلود چې د و خت په تیریدو سره د پکتیکا په سیمه کې داسې میشت شوي چې د ولایت په ختیځه غرنی برخه کې خروټي او نور قامونه او په لویدیځه هواره سیمه کې یې د سلیمانخیلو قامونه میشت شوي دي.

د ګومل د نوم او جغرافیې څرک په مختلفو تاریخي روایاتو کې ترلري لیدل کیږي. په ریګویدی سرودونو[2] کې د "ګوماتی" د سند په غاړه د اریایي قبیلو تر منځ د جګړې یادونه شوې او د محقیقینو په نظردغه د ګوماتي سند همدغه د ګومل د سند تاریخي نوم دی. د ګومل دره د تاریخ په اوږدو کې د «خراسان» (د اوسني افغانستان جنوبي، مرکزی برخې او هلمند د سند حوزه) او «دمان» (د اټک د سند حوزه) تر منځ د تلو راتلو لاره وه چې لا تر اوسه هم د موسمي کوچیانو د کډو مسیر دی. د «دمان» او «خراسان» نومونه لا تر اوسه هم د سیمې د کوچیانو په خولو کې دی او په همدغه پورته یاد شویو سیمو باندې یې اطلاق کیږي. وایی چې د سلطان محمود غزنوی لښکرې هم د ګومل د درې له لارې هند ته تلې او راتلې. لکه چې په یوه تاریخي لنډۍ کې یې داسې یادونه راغلې ده:

که د خانو لښکرې راغلې ز ه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

ملک خانو چې اصلي نوم یې خان محمد وو، د سلطان محمود غزنوي په لښکرو کې د غلجیو د یوه لښکر مشر وو او د خپلې میړانې له لارې یې داسې شهرت موندلی وو چه پیغلو به په لنډیو کې یاداوه[3].

د ګومل نوم په ډېرو متلونو او ولسي کیسو کې هم یاد شوی دی، مثلاً دا متل چې " اوبه د ژوب نوم د ګوملي" د دې حقیقت بیانوونکۍ دی چې ګومل په تاریخ کې هم د سیمې له ډیرو مشهورو نومونو څخه وو. همدا راز دا متل چې " که ګومل وچه ده خو دود یې روان دی" د دې سیمې د جامع او منل شویو عنعناتو د قوت ښکارندوی دی. دا متل چې "تر وزلی ورور پری اینبی ګومل ښه ده" هم مختلف تعبیرونه لري. او پدې متل کی چې "د مړی پور له ګوملی ده" هم د دې سیمې د یو ډول ځانګړو عنعناتو رازونه پټ دی. بالاخره دا متل چې " مړ یې تورانۍ کړ په ګومل یې کډې ځې، خدایه زور غواړی بدی" دا بیانوی چې که ګومل د برمنو، سوبمنو لار او یو طبعی مسیر وه خو د بی مرکزه ټولنو د ناسالمو رواجونو له لاسه د غمجنو کډو لار هم وه.

د ګومل دره تر ډیره پورې په طبعي ونو نیمه پوښلي غرونو، چې په ځینو سیمو کې ګڼ او نور یې بیا ډیر یوه دوی دی، تشکیلوی. خاوره یې ډیره حاصل خیزه او هوا یې د باغونو او میوه دارو ونو لپاره ډیره مناسبه اوښه ده.

د اورګون نوم او سیمه هم یواوږد تاریخ لري، چې یادونه یې د ریګویدا تر سرودونو را وروسته په اوومه میلادي پیړۍ کې د چینایي زایر او سیاح "هیون تسانګ" په یاداښتونو کې هم راغلی دی. هیون تسانګ، چې زموږ د هیواد ډیری سیمې یې د بودایي معابدواو بودايي دین د مراکزو او دیني زده کړو د تر لاسه کولو لپاره لیدلي وې، د اورګون د سیمې یادونه یې هم پخپلو یاداښتونو کې راوړې ده. هیون تسانګ په خپلو یاداښتونو کې د «اوه رګونه» نوم یاد کړی دی او غالباً به د اوسني اورګون په سیمه کې کوم بودایي معبد او مرکز موجود وو چې نوموړی سیاح ور څخه لیدنه کړې وې.

د اورګون د نوم په هکله یو شمیر روایات موجود دی چې نورو ژورو څیړنو او مباحثو ته ضرورت لری. ځینې وایي چې د اورګون نوم د "هر ګوند" له کلیمې سره اړیکه لري او دا ځکه چې مختلفي طایفي پکې اوسیږي. داسې ښکاري لکه چه د اورګون کلمه د " اوه رګونو"د کلمې اړول شوی شکل وي ، چې معنی یې (اوه) (رګونه) دي. د اوبو د «رګ» اصطلاح اوس هم معموله ده او تر مځکه لاندی د اوبو د سیر، تګلاری یا چینل معنی لری. ویل کیږي چې دا سیمه تر مځکې لاندې د سطحي اوبو غني منابع لري او داسې ښکاري لکه چې له اوو خواوو به د غرونو لاندی اوبه دلته سره را ټولیږی، د «اوو» «رګونو» چې بیا به «اورګون» شوی وی، په نامه یې شهرت موندلی وی.

---

[2] کهزاد احمد علی (۱۳۴۶ هش) افغانستان در پرتو تاریخ - مجموعه مقالات تاریخی رادیو افغانستان.

[3] . (رفیع حبیب الله (۱۳۸۶ هش) . د « کتابونه دریابونه » کتاب په حواله.

ketabton.com - The Digital Library

د کټواز د نوم څرک په لیکلو اثارو کې لږ تر لږه تر لسمې میلادي پیړۍ پورې لیدل شوی دی. منهاج الدین سراج جوزجانی په خپل مشهور کتاب طبقات ناصری[4] کې د «کته واز» دسیمی نوم اخلی او دهغی سیمي د دوو پهلوانانو نومونه یادوی چې د سلطان علاو الدین غوری په لښکر کې یې دغزنی د ښار د نیولو په وخت کې مهم رول درلودلی وو[5]. د کټواز سیمي جغرافیوي جوړښت او نوم ته په کتو سره داسي ښکاري چې د «کټواز» د نوم اصل به له دوو سوچه پښتو کلمو څخه را منځته شوی وی یعنی «کښته خواته فراخه شوی سیمه». د کټواز سیمه هوارې برخې لري چې د ختیځ او لویدیځ لخوا د غرونو د لړیو تر منځ پرتې دي، چې دغه ډول ارضي جوړښت یې د دې سبب شوی چې ترمځکی لاندی د اوبو ښې زیرمې و لري. د کټواز په سیمه کې د نفتو زیرمې کشف شوې وې چې په ۱۳۵۰سمي لسیزې کې یې کومې فرانسوي کمپنی ته د استخراج قرارداد ورکړل شوی وو، عملي نه شو او د شوروپانو غوبل هر څه سره ګډ وډ کړل.

د پکتیکا د ولایت مرکز ښرنې په سیمه کې د پتني د غونډۍ په نوم د بودایي دورې یو معبد ته ورته غونډۍ موجوده ده ، سره لدی چې د معبد کوم اثارپکی ندي پاته، خو د جوړښت او شکل له مخې ښکاري چې د ګردیز په سیمه کې د بالاحصار د غونډۍ په شان به د زنبیلشاهانو له دورې سره اړیکې لري. ځینې ولسي روایتونه هم د دی خبری اشاری کوی چه دغه غونډۍ به یو بودایي معبد وو. دغی سیمي ته نژدی د متاخان په سیمه کې دې ته ورته دوه نوری غونډۍ شته چې د ولسی روایاتو په حواله د زمبورکشا هانو په دوری پوری اړه لري. ولسي روایتونه وایی چې د هغه وخت درې خونډې وې چې هرې یوې یې په دغو غونډیو باندې خپل محل جوړ کړی او په سیمه یې فرمان روایي کوله. دې ته ورته یوه بله غونډۍ د یوسف خیلو په سیمه کې هم وه چې غالباً به د دغو دریو غونډیو غونډی اهدافو لپاره او یا د بودایی معبد لپاره کاریدلې وه. له بده مرغه چې یاده شوې غونډۍ شپږ اووه کاله مخکی، ظاهرآ د امینتی ملحوظاتو له مخې، له مځکی سره داسی هواره شوه چې سره لدی چې د زمانی ترخو یې مقاوت نه وو مات کړی، خو د بی رحمه عسکری بلدوزرو په غوغا کې یې چا د ژړا آواز هم وا نه وریده.

د پکتیکا د سیمې په زړه پورې طبعي ښکلا او ښایسته پاکه هوا او اوبه یې د ډیرو لپاره د ژوند یو ارمان بلل شوی، لکه چې په یوه نیمه منظوم محلی متل کې وایی: یوه مې دی **سره وزه** وای او نو ر مې **هیڅ څه** نه وای، خو چې کور مې په **سروضه** وای!

د پکتیکا ولایت درې مهمې سرحدي لارې (د وازیخوا له لارې له کوېټې سره، د سروبې له لارې له وانه او دیره اسماعیل خان سره او د اورګون له لارې له میرانشا او پیښور سره) لری چې ګمرکی عایدات یې یو وخت د ولایت ټول مصارف پوره کول او د هیواد د ملی عایداتو لپاره یو مهم عایداتی مدرک کیدای شی. له بده مرغه پدی اخیره لسیزه کې یې لا تر اوسه هم د تنظیمولو لپاره کومه اراده هم نه ښکاری او داسی ښکاری چې مرکزی حاکمان خو لا ور باندی خبر هم نه دی. برسیره پردې د مرکزي اسیا او هند د بحر (د کراچی له لاری) تر منځ تر ټولولنډه ترانزیتی لاره هم په افغانستان کې د پکتیکا له لارې څخه شمیرل کیږی.

د پکتیکا د ولس په ډیرو ناخوالو برسیره، د سیمې د طبعي زیرمو او خدای ج ور کړي نعمت په نسبت د اوسیدونکو بیرحمانه چلند د ولس د بدبختیو یو مهم عامل دی چې د راتلونکی نسل لپاره د یو بد مرغه خطر د زنګ آواز ځینی اوریدل کیږی. د سیمې د بی مثله ښکلو طبعی ځنګلونو ونې په بیرحانه ډول له منځه وړل کیږی. د سیمې د غرونوارتفاعات داسی دی چې د هند د سمندر مرطوب تاوده بادونه ور سره لګیږی او د الله ج په حکمت سره د طبعی ځنګلونو د را شنه کیدو سبب شوی دی. په دغو ځنګلونو کې یو شمیر داسی ونی لکه منځی او شنی پیداکیدی چې د کیفیت نمونه یې د نړی پر بل هیڅ ځای کې نه ښکاری. له بده مرغه دغه ځنګلونه د ولس د لوږی، بی روزګاری او تر ډیره حده د نا آګاهی/ناخبرۍ له امله پاک خواپاکی جارو شول او تقریباً دغه ډول ونې پکې ختمې شوي دي. داسي ښکاري چې اقلیم هم له خلکو سره دوښمني را اخیستې وي او یا به یې له خلکو څخه د دوی د بې رحمی د غچ اخیستنی اراده کړې وي، چې دغه ډول ونې نورې نه شنې کیږي او که شنې هم شي، نو د پالنې او ساتنې غم او نیت یې له چا سره نشته.

بله لویه بدمرغی د مځکی لاندی اوبو څخه بیرحمانه او غیر اقتصادی ګټه اخیستنه ده. په ټوله ، خو په خاصه د کټواز او سروبی په سیمو کې، له درې څلور لسیزو را هیسې د زورو څاګانو کیندل او د هغو له اوبو څخه د کروندې لپاره ګټه اخیستنه شروع شوی ده. سره لدې چې ولسونه اوبه د زړه په وینو د مځکې له تل څخه را باسی او کروندې

---

[4] دری (د یوولسم ټولګی درسی کتاب) د طبقت ناصری د منهاج الدین سراج جوزجانی په حواله.

[5] د نوموړی پیښی تفصیل لاندی ولولی.

ketabton.com - The Digital Library

وربانديږ خړوبوي، خو محصولات يې بيا تر مصارفو کم وي. يوه وجه يې له منابعو څخه غير فني ګټه اخيستنه ده ، خو بل دليل يې د محصولاتو لپاره د بازار نشتوالى دى. عمده زراعتى محصولات يې وچې او شنې ميوې دي؛ لکه زنغوزى، انګور، هندوانې، منې، سبزيجات او نور. داچې نه بازار لري او نه د هيواد نورو مارکيټونو ته لارې لري او د صادرولو لپاره يې نه مرسته شته او نه مشوره، نو دغه محصولات اکثراً په ډير نازل قيمت خرڅيږى، چې اکثر وختونه د ولسونو لپاره د نور اقتصادى تاوان عامل هم وى.

په اوړد مهال کې يې بله اساسى ويره دا ده چې که له دغو اوبو څخه په دغه ډول بيرحمانه ګټه اخيستنه دوام وکړى، نو يو وخت به دا هم ختمې شى او د وچکالى د دوام په صورت کې کيداى شى چې تر مځکى لاندى د خلا د را پيداکيدو سبب شى چې د لوى بشرى ناورين د رامنځته کيدو ويره هم ځينى کيداى شى.

### د پکتيکا مشاهير، مفاخر او تاريخى اماکن

د پکتيکا ولايت سر ه لدې چې د ټولنيزې ودې او هوساينې له اړخه د هيواد يو تر ټولو غريب او له نظره لويدلى ولايت بلل کيږى، اما په نزدې او لرې تاريخ کې يې داسې نوميالي په خپله غيږ کې هم روزلي او لوى کړي چې په کارنامو يې وياړ کيداى شي. په لاندى کرښو کې يې د ځينو يادونه کوو.

1) سيدال خان ناصر چې د ميرويس نيکه سره يې د ګرګينيانو په ضد پاځون کې ونډه لرله او وروسته بيا د شاه محمود هوتکى د وخت مشهور سپهسالار شو، يو با تدبيره افسر او پياوړى جنګيالى وو چې هيوادوال يې په کارنامو وياړي. سيدال خا ن په قوم ناصر وو او پلرونه يې د پکتيکا ولايت د اوسنى وازيخوا د سيمې اوسيدونکي وو. د وازيخوا ناصرو د ميرويس نيکه اواز ته لبيک ووايه او کندهار ته ورغلل اوبيا يې هلته استوګنه غوره کړه[6]. د ايران تر نيولو او بيا د هوتکيانو تر سقوط وروسته د سيدال خان ناصري کورنى د کابل شاوخوا سيمې ته ولاړل او هله ميشت شول. د کابل د ښار د خير خانى په سيمه کې يوه مشهوره ليسه د سيدال خان ناصر په نوم نومول شويده.

2) وايي کله چې سلطان علاو الدين جهانسوز د خپلو ورونو د وژنې د غچ اخستلو لپاره له غور څخه په غزنى د حملې کولو لپاره راغى، نو د غزنى واکدار پاچا، سلطان بهرامشاه، د ګيلان سيمې ته هيئت ور وليږه چې له حملې څخه واوړي. بهرامشاه ځواب ور وليږه چې « ته زما زور نلرې، زه لوى لښکر او فيلان لرم». علاوالدين په ځواب کې ورته وويل چې « که ته فيلان لرى، زه خرميلان لرم». زه به د خپلو ورونو انتقام خامخا اخلم. علاوالدين خپل دوه پهلوانان، چې د لښکرو مشران هم وو، را وغوښتل او ورته ويې ويل چې ما بهرامشاه ته داسې لافې کړې دي، اوس به نو تاسې له فيلانو سره مقابله کوى. دغه پهلوانان چې يو يې سام حسين او بل يې سام پنجى نوميدل، د اوسنى پکتيکا د ولايت د کټواز له سيمې څخه وو. کله چې جنګ و نيښت، نو هر يو د دغو دوو پهلوانانو څخه له يوه يوه فيل سره مخامخ شول. دوى هر يو د فيلانو تر ځل لاندى ور ننوتل او د هغو په زړونو کې يې تورى خښى کړى. سام پنجى تر فيل لاندى شوو او له فيل سره يو ځاى ومړ، او سام حسين په فيل بريالى شو. د بهرامشاه لښکر ماتى وخوړه او علاوالدين د غزنى ښکلى ښار، چې په اسلامى ادب کې «عروس البلاد يعنې د ښارونو ناوې» بلل کيده، ونيو او ويې سوځاوو[7].

3) د هيواد له ډيرو نوم ورکو عالمانو او د پښتو ژبى د اديبانو او په پښتو ژبه د ليکوالانو څخه يو هم نواب ګوملى دى. نواب ګوملى په پښتو ژبه د خلقت په نوم د قرآن عظيم الشان د څو سورتونو يو تفسير ليکلى وو چې بيا د انګريزې هند د ډيلى په مطبعه کې چاپ شوى وو. د خلقت يوه نسخه ما ليدلې وه او را سره وه خو را څخه بې در که شوه. نواب ګوملى له لومړنيو ليکوالانو څخه وو چې د سيد احمد لودين، چې په کاکا مشهور وو، پشان يې د پښتو د ليک دود لپاره د هيجايي طريقې رواجول غوښتل. نواب ګوملى د خلقت په سريزه کې د هيجا په طريقه د دوه حرفي، درې حرفي او نورو کليمو د ليکلو طريقې بيان کړې دي[8]. نوموړى برسيره پردې چې يو عالم او ليکوال وو، د انګريزانو پر ضد په جهاد کې يې هم لويه ونډه لرله.
نواب ګوملى د پکتيکا د ولايت د ګوملى د ولسوالى اوسيدونکى وو چې ذوذات يې اوس هم هلته اوسى او د نواب کلى په نوم شهرت لرى.

---

[6] له بينوا ويبپانى څخه په مننه.
[7] ددولسم ټولګى د درى په کتاب کى له طبقات ناصرى څخه.
[8] نواب ګوملى، خلقت د قرآن کريم د څو سورتونو پښتو تفسير.

ketabton.com - The Digital Library

4) د ولایت په مربوطاتو کې یو شمیر متبرکه اماکن او زیارتونه، چې د ډیرو خلکو د توجه وړ دي، هم شته؛ لکه: اسماعیل ګرندی، ماما ګرندی، غني آبا، دیوانه بابا، حیات آکا، شاه بیک آبا ، باباجی صاحب، او نور، چې هر یویې د ملنګی او قلنګی تر څنګ د ولیتوب د مرتبو او برخو څښتنان بلل کیږي.
د ولس په مړو او تیر نسل کې شاشی کمرانی، خان فتح خان، بیرګټ نعمت، با جان پرکمشر، پرکمشر انګور وزیر، جنرال عبدالحکیم کټوازی، ریس خمارالدین، علاقه دار جمه ګی، ملک منصور، ملک سیف الدین، صاحب جان خان، مولوی محمداعظم، تحصلدار عبدالکریم، کاکا مبارک، د شاوزه خلیفه صاحب، ملک دوست محمد زاولیخیل، د ګیان مولوی صاحب او یو شمیر نور د سیمې او ولس یو شمیر مدبر، بزرګان، زړه سواندي، میړني، دلاوران، سخیان او د قوم او ولس د خادمو مشرانو نومونه دي چې د قوم له مشاهیرو څخه شمیرل کیږي. د موجوده نسل په مړو کې یوازی د شورویانو د تهاجم په وخت کې د لومړنیو شهیدانو نومونه لکه شهید قاضی ولی محمد، شهید انجنیر جمعه ګل، شهید جګړن شیرعلی، شهید معلم غازی مرجان، د سلیمانځو ملا صاحب او نور یادولای شو. د شهید ځوانیمرګ داکتر عید محمد چې د ولایت، سیمې او حتی هیواد په سطحه یوازینی ځوان متخصص داکتر او د سیمی یوه هستی وو، د طبابت په څانګه کې يې دوکتورا (پی ای ډی PhD) لرله، هم یادول لازمی بولم. داکتر عیدمحمد پنځلس کاله مخکې چی کله د دوکتورا له تحصیلاتو سره هیواد ته را شتون شو سره لدې چې په مرکز(کابل) کی یا شخصی سکتور کی د هر ډول امتیازاتو او مقام بیشنهاد ورته کیده خو ده د خپل ولس د خدمت لپاره په پخپل ولایت کی خدمت شروع کړ خو زموږ د بدقسمتي له امله د ولس او هیواد د خدمت ارمان د پوره کولو په ځای خاورو ته ور سره یوړ.
په ژوندو کې بیا د پیاوړی رسام او د قرآن عظیم الشان د ښکلی خطی نسخی تیاروونکی استاد ګلمیر نوم یادولای شو.استاد، که څه هم ډیر هنری کارونه تر سره کړی خو نوم ورکی رسام او خطاط دی او غالباً چا يې نوم هم ندی اوریدلی.

## د پکتیکا والو نالوستې خو په یادونو کې ژوندۍ کارنامې او قربانۍ

### د آزادي په جګړه کې

د سپهسالار نادر خان تر مشري لاندې پداسې حال کې چې د پکتیکا میشتو مجاهدینو وانه ونیو او د ټل چاونۍ محاصره او د انګریزانو لخوا د تخلیې په درشل کې وه چې د کابل لخوا د انګریزانو د سولی د خبرو وړاندیز ومنل شو او پدې ترتیب مجاهدینو ته د متارکی او حتی د په ښاتګ لاربنونی اعلان شوی. که څه هم ولسونو د جهاد د دوام ناری وهلی خو مرکزی حکومتی یې غږ نه اوریده. سید رسول (۱۴۰۵ هش) لیکي چې کله چې د وزیرستان مجاهدینو انګریزان پسې اخیستي او په اصطلاح لوری یې ځینی ورک کړی وو، خو د کابل حاکمانو له انګریزانو سره د سولی معاهده کوله. په وانا کې ملک هفته خان د ملا حمزالله په مشوره یوه جلسه جوړه کړه چې د جهاد دوام یې غوښت. په دغه جلسه کې د سیمې مشرد نا هیلی او ګیلی په شکل داسی ویلی وو:

بجرم عشق تو ام میکشند غوغائیست
تو بر سر بام ای چه خوش تماشائیست[9]

(۴۵ مخ)

د وانه فتحه شوی سیمه وروسته بیا له انګریزانو سره د د تورخم په نزدیو کې د لعل پوری اوګوشتي په سیمه تبادله شوه.

### پکتیکا وال او د سرحد ساتنه: د دولت په ځای د ولس ذمه واري!

د سیمې ولسونو په تاریخ کې د پکتیکا څیرمه د هیواد سرحدات په خپله ساتلي دي. د پکتیکا په سیمه کې سرحدونه د ولسی مشرانو په وسیله د قومی ملیشو لخوا ساتل کیدل. دولتی آمینتی قواوی د پکتیکا په سرحدی سیمو کې کوم خاص وجود نه درلود. تر اوسه لا هم د ولایت په سرحدی سیمو کې د هیواد فوځی او آمینتی قواوی د ډیورنډ له کرښې څخه په شلګونو کیلومره را د ننه پراته او ډیر کمزوری موجودیت لری. د مثال په توګه په ګومل کې د هیواد امینتی او اداری واحدات تر ۷۰ کیلو متره نشته خو سرحد ارام ساتلی شوی دی. همداراز د وازیخوا په سیمه د دولت حضور له

[9] سید رسول (۱۴۰۵ هش). نظری به عهد سلطنت آمانی، (۴۵ مخ).

ketabton.com - The Digital Library

سرحد څخه لرې شلګونه کیلومتره لا نشته. لدې سره سره بیا هم په دغو سیمو کې د ولسونو د تاریخی ذمه واری له برکته سرحدونه په آمان او دوښمن د سترګو ور اړولو جرآت هم نه کاوو. د دې واقعیت تاریخی عوامل شاید د سرحدی ملیشو وجود وی چې په دغو سیمو کې سرحدات د ولسونو له برکته داسی په امان دی لکه لویه کلا چې به ور باندی را ګرزیدلی وی. پخوانیو حکومتونو د اوسنی پکتیکا د ګومل او برمل د سیمو یو شمیر قومی ولسی مشران د سرحد ساتلو لپاره توظیف کړی وو چې د ځینو قومی مشرانو نومونه یې لاندی ذکر کیږی:

برګټ نعمت، پرکمشر انګور وزیر (چې د انګور اډی ښارګوټی اوسیمه یې په نوم ده)، پرکمشر باجان، صوبه دار خواجه ګی، نعمت خان رډ، اکبر جان، کامران، سیف الرحمن، ببرک خان او نور.

د طالبانو د واکداری په مهال یو وخت د وازیخوا سره نژدې د ډیورنډ د کرښې ها خوا د دو قومونو تر منځ د مځکې په سرلانجه پیدا شوې وه او یو شمیر کورنی د پکتیکا د کټواز سیمې ته را نقل شوې وې. د لانجې د حل لپاره افغانی خوا یوه جرګه وټاکله چې غړي یې د پکتیکا د یو څو مشرانو او عالمانو په شمول با رسوخه مشران او ځینی یې د دولت غړي هم وو. له جرګې څخه وغوښتل شول چې د ډیورند د کرښې ها خوا سیمې ته ورشي تر څو د منازعې سیمه په خپله وګوري. کله چې د جرګې غړي هلته ولاړل نو د پاکستانی دولتی مامورینو لخوا یوه دفتر ته و بلل شول. هلته یو لوړ رتبه فوزی افسر پیشنهاد ور ته وکاوو چې که د دوی رضا وي نو دوی (د پاکستان لوری) حاضر دي چه د ډیورنډ کرښه شل، دیرش یا څلویښت کیلومتره له اوسنی موقیعیت څخه ها خوا ومنی. افغانی مشرانو په چل سره ځان ځینی خلاص او ورته ویلی چې دوی مصلحتی جرګه ده نه د دولت نماینده او د معضلی د حل لپاره راغلی دی.

دغه تاریخی پیښی او شواهد شاید ددې واقیعیت یو دلیل وی چې د پا کستان حکومت دغه سیمې تر ډیره وخته لا د ځان نه بللې او تر دغو اخرو پورې یې په سیمه کې کومه خاصه مداخله نه کوله. داسی هم ویل کیږی چې پدې اخروکی امریکایانو پاکستان ته د ډیورنډ د کرښی بله (نوی) نقشه[10] ورکړی وی او بیا نو شاید د پاکستان ایله زړه منلی وی چې دغه سیمې دوی ته ور کړل شوی وی او امریکایان یې هم ورکول غواړی.

### د شوروپانو د تهاجم په دوره کې

د شوروپانو د تهاجم په دوره کې د پکتیکا ولایت د هیواد یوازینی سیمه وه چې موټر رو لارې پکې وې او د هیواد د ټولو خلکو په مخ د بشپړ آمنیت سره، او تر دې زیات، د ولس د بشپړې اسلامي همکاري او مسؤلیت د احساس سره بې له تبعیضه او ازاره د هر چا په مخ خلاصې وې او د هیواد هر وګړی ځان پکی داسی باله لکه په خپل کلی او کور کې چې وی. د مهاجریدونکو وطنوالو، مسافرینو، مجاهدینو او نورو لپاره د پکتیکا د ولایت لارې د بشپړ امن او د اسلامی او وطنی اخلاقو او اخوت یوه ډیره ښه نمونه وه او ولس بیله هیڅ ډول تبعیض او ازار څخه د ټولو په خدمت کې پوره اخلاص درلود او مسؤلیت یې باله. د دې لپاره چې بی وزلی مسافر وطنوال د کلیوالو له خوا د میلمنو په حیث وپالل شي، په هغه وخت کې په ځینو سیمو کې حتی د لویو لارو په سر د پرتو کلیو سره نزدی د هوټل جوړیدو اجازه نه ورکول کیده (مثلآ سپینه (اومنه)، پاسنی (سروبی) او نورو کلو کی).

د پکتیکا سیمه د شوروپانو له تهاجم سره د مخالفت او مقاومت لومړنئ سنګر وو. د هیواد له آزادو شویو ولایتونو څخه لومړنی ولایت وو. همدغه وجه وه چې شوروپانو د پکتیکا په ځینو سیمو، مثلآ اورګون او سروبی کی په بی رحمی سره دومره ډول ډول بمونه استعمال کړی وو چې شاید نمونی یې د هیواد په محدودو سیمو کی ولیدل شی. د پکتیکا په لویو سیمو کی اوسیدونکی د بیرحمانه بمباریو له وجی حتی ټوله سیمه په یوه ورځ او شپه کی له کورو وتلو ته داسی مجبور شوی وو چې د پخلی دیګونه یې په نغری پاته شوی دی (مثلآ د اورګون او سروبی ولسونه). د دغی دوری ډیری ناخوالی شته خو د ولسونو د دغسی بی حده قربانیو یادونه یې هم چا ونه کړه.

د دغې دوری یو بل مهم اړخ دادی چې سره لدې چې د هیواد د نورو سیمو په شان د پکتیکا وسلونه هم په مختلفو احزابو کی ویشلی او بسیج شوی وو او ټول یې خپلو احزابو ته متعهد او وفادار وو، اما خپل منځی اختلافونه یې هیڅ وخت هم د جګړو تر سرحده نه وو رسیدلی. سره لدې چې د ټولو جهادی احزابو مخور مشران، طرفداران او مسلح افراد او ګروپونه پکی وو، حتی د کلیو په سطحه ولسونه لاسره ویشلی وو، اما بیا هم پدې ټوله دوره کی، د یو دوو پیښو په استثنآ، د ولایت په ټوله ساحه کی یو تن هم په خپل منځی جګړو کی نه دی وژل شوی. سره لدې چې د هیواد

---

[10] څو کاله مخکی چې کله پاکستانی قواوی د ننګرهار ولایت سرحدی سیمې ته څیرمه په سیمه کی د امریکایی قواو له خوا په تخلیه شویو مراکزو کی ځای په ځای کیدل او په سر یې شخړه وشوه، یو دلیل یې هم داسی ښودل کیده چې پاکستانیان یوه بله نقشه لری چې امریکایانو ور کړی ده.

ketabton.com - The Digital Library

په نورو ولايتونو او سيمو که لا څه چې د پکتيکا ولايت څيرمه زرمت (پکتيا) او شلگر (غزنی) ولسواليو کی لسگونه او حتی سلگونه کسان په يوه او بل نوم وژل شوی وو.

## د کشمير په آزادي کې د پکتيکا والو قرباني

کله چې په ۱۹۴۷م او۱۹۶۵م کلونو کې د هند او پاکستان تر منځ د کشمير په سر جنگونه وشول، نو د پاکستان حاکمانو د سرحد ولسونو له اسلامي احساس څخه د ځان په گټه ښه کار واخيست. د اوسنی پکتيکا ميشتو ولسونو يوه برخه کوچی او نيمه کوچی ژوند درلود او حتی يو محدود شمير يې لا تر اوسه هم کوچی ژوند لری- مثلاً، دوتانی، سليمانخېل، کم شمير خروټی (زاولی خيل، امندخيل) اوسليمانخيل ( تاروخيل/ عليخيل). په عمومی توگه ولسونو، په خاصه کوچی ولسونو ته د ډيورنډ کرښه هيڅ معنی نلری او د سرحد ها خوا هم د خپل هيواد برخه ور ته ښکاری. د پاکستان پخوانيو حکومتونو د دغو ولسونو يو شمير مشرانو ته د «ليډر پونده» په نوم هويت ورکړی وو او پدې ترتيب يې منلی وه چې دغه ولسونه د دغی سيمې واکداران دی او حق لری چې چيری چې وغواړي واوسيږي[11]. کله چې په پاکستان سخته راغلې نو د اسلامي وروروليٍ له مخې يې په ډير چل سره د دغو کسانو څخه د جنگ لپاره مرسته غوښتلی او کار يې ځينی اخيستی دی.

بله دا چې ولسونو د ډيورنډ کرښه نه منله او دا چې پخوا کشمير هر وخت زموږ د هيواد يوه برخه وه نو داسی به يې بلله لکه چې د خپل هيواد لپاره جگړه کوی. بله مهه خبره دا هم وه او حتی لا تر اوسه هم ده چې د کشمير مسئلی ته د اسلامی خاوری او مسلمانو څخه د دفاع رنگ ورکول کيده او حتی لا ور کوی کيږی. همدغه مسئلی و ی چې د ۱۹۴۷ م او ۱۹۶۵ م کال په جگړو کې پکتيکا ميشت ولسونه د پاکستانی کشمير په نيولو کې په مقدمه کرښه کې وو. د ۱۹۴۷ م کال د کشمير د جنگ د يوه تن له خولی می اوريدلی دی چې دوی د جمو کشمير لويه برخه نيوی وه. د دغو ولسی لښکرو شايد ډير مشران وو او شايد ډير يې وژل شوی هم وی، خو دا چې نه يې قيادت وو، نه واحده قوماندہ او نه يې څوک د پوښتنی وو، نو هيڅ کره معلومات نشته. د ۱۹۶۵ م کال د جگړی د يوه گډون کوونکی کس له خولی می اوريدلی وو چې کله چې د هند او پاکستان تر منځ اوربند وشو نو پاکستانی فوځيانو ولسی لښکری محاصره او په زور يې له صحنی څخه را لری کړی . راته ويلی يې وو چې د دوی د يوه کنډک قوماندان چابک آغا ( د اورگون د سيدانو ) وو. نوموړی را ته ويلی چې کله چې دوی د پاکستانی فوځيانو لخوا محاصره شول، نو تر هغو يې مقاومت کاوو چې کله يې قوماندان، چابک آغا، په لاس ټپی شو. تر هغه وروسته بيا دوی ټول د فوځيان پلاس بنديان او تر يو څه وخت وروسته بيا خوشې او له سيمې څخه را وشړل شول.

## مشرقي پاکستان (بنگله ديش) کې د پکتيکاوالوځوانانو قتل عام

د هند لويې وچې ته د افغانانو تگ را تگ د غلجيانو له زمانې را نيولی بيا تر غزنويانو، ابداليانو او حتی محمدزايانو پورې اوږده سابقه لري. محمد غلجی زر کاله پخوا په بنگال کې لومړنی افغان پاچا او په سيمه کې د حکومتی نظم جوړولو مؤسس بلل کيږی[12]. افغانانو، او بيا په خاصه د اوسني پکتيکا ميشتو ولسونو په برطانوي هند کې لا پخوا کاروبارونه لرل. د هند او پاکستان د جلا کړون څخه وروسته هم ډير شمير افغانان د بنگال او هند په ډير سيمو کې په تجارت او کاروبار مشغول وو. اکثرو يې افغانی پاسپورتونه لرل خو يو کم شمير يې په پخوانی نوم دوه تابعيته ژوند هم درلود.

په ۱۹۷۱م کال چې د بنگله ديش د جوړيدو په سر جگړه پيل شوه نو د پاکستان حکومت بيا هم له يوه نيرنگ څخه داسې کار واخيست چې بنگال ته يې پښتانه جنرالان د جنگ د کټولو په هيله ور وليږل- جنرال نيازی او جنرال ټيکه خان دوه نومونه وو چې که په ختّه هر څوک وو خو نومونه يې پښتنی ښکاريدل. د بنگاليانو د بيلتون په جگړه کې د هند مداخله د جگړی بی رحمه شکل نور هم تند کړ. بنگالی عوامو دا نشوه درک کولای چې پښتانه (چې اکثرو يې افغانی پاسپورتونه لرل) د پاکستانی فوځيانو سره تميز کړی. په غالب گمان پاکستانی حکامو هم غوښتل چې په غيرتمنو او قوی هيکله پښتنو پوری، چې پخوانی تاريخ يې هم له ميرانو او سوبو ډک دی او په سيمه کې په توره اوميرانه ښه پيژندل شوی وو، ځان تير کړی.

په بنگال کې د افغانانو (او په خاصه پکتيکا والو) شمير که څه هم معلوم نه وو خو ډير وو. د پکتيکا د سيمې ډير ځوانان چې هلته يې کاروبارونه کول ورک او نادرکه شول. د ځينو مصاحبو په حواله په ډاکه او نورو سيمو کې د

---

[11] يو له دغو پوونده مشرانو څخه خليفه محمد اسلم نوميده چې د کويټی د حضرتانو مريد، خليفه او په ولسی معضلو کی يې مشاور بلل کيده او په پکتيکا کی د سپينه د کلی اوسيدونکی وو.
[12] علامه حبيبی (۱۳۴۶ هش) تاريخ مختصر افغانستان.

ketabton.com - The Digital Library

عبدالخالق سلیمانخیل او محمد جان لنډیزی تر مشری لاندی د اوسنی پکتیکا میشتو ولسونو ځوانان چې هلته اوسیدل، د ځان د خلاصون لپاره سره بسیج شوی وو. که څه هم کره شمیر یې ندی معلوم، خو تر ۲۰۰-۳۰۰ تنو پورې ځوانان ورک شول. د ځینو کیسو له مخې دغه ځوانان په ډیره بې رحمي سره داسی وژل کیدل چې لومړی به یې وینه ځینی ایستله او بیا به یې دسند اوبو ته لاهو کول. د اوسنی پکتیکا میشتو ولسونو (په خاصه کټواز، سپینه، اورګون) داسی کورنی هم وی چې څو تنه یې لا درکه او وزل شوی وو. دا چې نه یې دولت پوښتنه کوله او نه یې بل څوک وو چې حال یې واخلی، نو په اصطلاح د«بیستو» په حساب کې ولاړل. کورنی یې تر ډیره د غم په حال کی د راتلو په هیله وی، تر هغو چې لس پنځلس کاله وروسته یې زړونو ومنله چې ځوانان یې په داسی یو جنګ کې وژل شوی چې له دوی سره یې هیڅ اړه نه درلوده. د خپګان خبره دا ده چې د وخت حکومت، چې له هند سره یې ښی اړیکی هم لرلی، هم هیڅ و نه کړل - شاید خبر شوی به هم نه وی!

## له پکتیکا میشتو ولسونو څخه د وخت د حاکمانو ځینی خاطری

د پکتیکا د ولایت له تشکیل څخه را پدیخوا د دولت حاکمانو یوه هم له ولس سره اشنایی نه درلوده او زړه یې هم نه ور باندی خوږیده. داسی حاکم به ډیر کم تیر شوی وی چې ولس ورسره شناخت یا دوی د سیمی او ولس سره شناخت لرلی وی. مرکزی حکومت همیشه د شپږمی ګوتی په شان معامله ور سره کړی ده. سره لدی چې میشتو ولسونو له دولت سره همیشه مرسته کړی خو دولت یې هیڅکله نه په غم او نه په خوشحالی کی شریک شوی دی. په لاندی کرښو کی د سپهسالار نادر خان او امیر عبدالرحمن خان یو څو خاطری چې له پکتیکا میشتو ولسونو څخه یې لرلی، را نقلوم.

وایی چې کله چې سپهسالار نادر خان د آزادی په جګړه کی د سروضی سیمی ته راغلی وو نو مشرانو د هغه د میلمه پالنی او احترام لپاره واړه ماشومان ورته درولی وو. وایی چې نادر خان له وړو جنګیانو څخه د دوی د نوم پوښتنه کوله او هری یوی به خپل نوم ور ته بیاناوو. د لین په پای کی یوی ماشومی ور ته وویل: «بله نسته». نادر خان ور ته وویل: میفامم، که دیگه نیست، میگم نامت چیست؟ هغی به یې په ځواب کی په معصومانه ژبه بیا بیا ور ته ویل «بله نسته!». تر هغو چې بل چا یې پاچا صاحب په مطلب پوه کړ!

کله چې امیر عبدالرحمن خان، د افغانستان فولادی پاچا، له خپل تره محمد اعظم خان سره یو ځای د امیر شیرعلیخان تر دوهم ځل پاچاکیدو وروسته تیښتی ته اړ شو نو د اوسنی پکتیکا له لاری له هیواد څخه ووت. امیر عبدالرحمن خان په خپلو خاطرو (تاج التواریخ) کی لیکی چې د زنه خان په سیمه کی تر اخری ماتی وروسته مجبور شوو چې د ذرمت (زرمت) له لاری سروضی، پیرمال (اورګون) او بیا په وزیرستان کی د مرغی سیمی ته ولاړ. امیر لیکی چې د سروضی، پیرمال اود مرغی ولسونو مو ښه میلمه پالنه وکړه. تر هغه په وروسته سفر کی مو هر څه تمام شوو او یوه روپی می درلوده. زړه می وشو چې غوښه وخورم ، غوښه، څه پیاز او غوړی مو واخستل او په اوسپنیز دیګ کی می په اور بار کړل. کباب ته می شوق شوی وو نو نیمه غوښه می په یوه رسی او د لرګو په څو ټوټو، وپییله او د اور له پاسه می ځوړند کړه. خو کله چې می له دیګ څخه خواړه را ایستل نو «سگی به گمان اینکه طناب و یک رودهٔ حیوانی میباشد طناب را به دهن گرفته کشید و طناب را با خود برد. سوارها دویدند نگذارند، ولی تمام مطبوخ ریخته بود» (یعنی کباب سپی یووړ او په دیګ کی پاخه خواړه په خاورو کی چپه شوی و). (تاج التواریخ، ۱۲۶ مخ).

امیر عبدالرحمن خان په بل ځای کې لیکی چې د دغه سفر په جریان کی چې له وزیرستان څخه د کاکړو سیمی ته ولاړ نو هلته یی له یوه سړی څخه پسه واخیست او چې کله می پسه حلال کړ، څښتن یې وویل چې پښیمانه دی او بیرته یې خپل پسه وغوښت. ما ور ته وویل چې حلال شوی دی، هغه ټینګار کاوو او ویل یې چې په کرامت یې بیرته ور ته را ژوندی کړم...... څه وخت وروسته د هغه پسه خاوند د احترام لپاره راغی او په ډیر تعظیم سره یې کباب شوی ورئ او مستې را وړی. ما ځینی وپوښتل چې «چرابه بهانهٔ گوسفند می خواستی نزاع نمایی؟ جواب داد محمد سرور خان در قندهار با من بد سلوکی کرده بود، حالا می خواستم در عوض از شما تلافی نمایم». ( مخکینئ مآخذ، ۱۳۱ مخ).

## نتیجه او سپارښتنې

لکه چې لیدل کیږی چې د پکتیکا سیمه او میشته ولسونه یې لکه چې د دوی حق دی، هغه ډول نه پیژندل شوی او نه معرفی شوی دی. د پکتیکا د ولسونو ډیری قربانی چې تر بل چا به کمی نه وی، حتی یادی شوی هم نه دی. د سیمی اوولسونو د مسایلو او ستونځو د نه رفع کیدلو اساسی عامل د ستونځو نادرست او سطحی تحلیل بلل کیدای شی. د اهل، متقی او زړه سواندی قیادت او حاکمیت نه لرل یې د سیمی او ولسونو د بدبختیو بل لوی عامل دی.

ketabton.com - The Digital Library

د سرحد په ساتنه کی د ولسونو رول او له هیواد څخه د باندی منازعو کی د پکتیکاوالو د قربانیو تاریخی شواهد شاید له ملی حکومت سره مرسته وکړی چی په بین الدولی منازعو کی یې دهیواد په ګټه و کاروی. پدې ترتیب کیدای شی پکتیکا والو ته یې هم کومه ګټه ورسیږی!

د سیمی د ځنګلونو پالل، احیا او ساتنه، تر مځکی لاندی اوبو څخه مناسبه فنی استفاده، د محصولاتو له پاره د بازار میندل، تخنیکی او فنی مشوری ور کول، او په عمومی توګه د ستونځو علمی تحلیل به د ولسونو د ژوند د سطحی د ښه والی او سوکالی لپاره ډیره مرسته وکړای شی.

پکتیکا وال زړور، کسبګر او زحمت کښ خلک دی او د مزدوری، کاروبار او تجارت لپاره هر ځای او هر ډول تکلیف ګاللو ته تیار دی. پکتیکا وال دسیمی او منځنی ختیځ په ټولو هیوادونو کی له لاسی مزدوری نیولی تر لویو لویو تجارتونو پوری په دلاوری او میرانه تر سره کوی. په هند، پاکستان او بنګله دیش کی د کاروبار کولو اوږده تاریخی سابقه لری چی د دغو هیوادونو ترعمرونو ډیر زیات دی، ډیر یې د منځنی ختیځ په هیوادونو کی او تر یوه حده د جنوبی اسیا په نورو پرمختللیو صنعتی هیوادونو کی ښه تجارتونه او کاروبارونه لری. برسیره پردې ډیر پکتیکاوال ځوانان هم په ایران کی په ډیرو شاقه کارونو کی مشغول دی. وایې چی «کلي مو لکه هوټل داسی دی- بل چیری یې ګټو او په کلی کور کې یې مصرفوو»! پدې ترتیب سره د پکتیکا والو ونده د ملی اقتصاد په لوړولو کی هم تر نورو کمه نه ده. خو دغه ډول عایدات او عایداتی منابع هم دولتی تنظیمونی او منل ایجابوی تر څو د سیمی او ولس په خیر ښیګڼه کی کار ځینی واخستل شی.

په درنښت
داکتر منصوري

## اخځلیکونه/مآخذ


امیر عبدالرحمن خان (۱۳۷۳ هش). *تاج التواریخ - تاریخ افغانستان*. پیښور: سبا کتابخانه.

بینوا ویبپاڼه بریښنایی سایټ د حمل میاشت، ۱۳۹۲ هش نشریات.

دری (د یوولسم ټولګی درسی کتاب) د منهاج الدین سراج جوزجانی *طبقات ناصری* کتاب په حواله.

رفیع، حبیب الله. (۱۳۸۶ هش) . *کتابونه دریابونه*. پیښور: د صافی د موقوفاتو اداره.

سید رسول (۱۴۰۵ هش). *نظری به عهد سلطنت امانی*. پیښور: کمیټه فرهنگی اتحاد اسلامی.

عبدالحی حبیبی (۱۳۴۶ هش) *تاریخ مختصر افغانستان*.

کهزاد، احمد علی (۱۳۴۶هش ) *افغانستان در پرتو تاریخ - مجموعه مقالات تاریخی رادیو افغانستان*.

کابل: دولتی مطبعه. د کتاب چاپولو مؤسسه، ۴۱ خپرونه.

ګوملی، نواب. *خلقت په پښتو ژبه د قرآن کریم د څو سورتونو تفسیر*. ډیلی:

منصوری، امیر محمد (۱۳۹۲ هش پکتیکا – په کنډوالو کی خزانی او که کنډواله شوی خزانی. تاند بریښنایی سایټ.

له یو شمیر افرادو څخه مستقیمي اوریدلي کیسی او مصاحبې.

د لیکونکی خپل ځانی مؤثق مشاهدات او لیدنی.

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*